# د صوبهٔ سرحد
# د رايي اخيستو نتيجه د منلو وړ نه ده

د وطـــن وني چـــندڼ اګـــــر دي
خاوري يې واړه مشک و عنبر دي
که ســـراى د نورو وته ســـنګړ دئ
کاڼي يې واړه مـــــا ته ســره زر دي
(خوشحال خان خټک)

تقريباً درې سوه کاله دمخه د پښتنو نامي قايد او لوى شاعر دا رباعي ويلې وه، دى خپل وطن ښه پېژني، چې ښله وچو غرو او سنګړو بل څه نه لري، مګر دا وچې پرښې او کاڼي او ډبري د يوه وطنخواه پښتانه په نظر کي د سرو زرو قيمت لري او توري خاوري يې د مشکو عنبر پر ځاى درېږي.

پخوانو پښتنو خپل وطن، خاوره هسي ښه ګڼله او هسي يو عميق عشق او درنه مينه يې ورسره درلوده، اباسيند په زرو زرو کاله بهېدلى دئ، اټک د دنيا حوادث او ناورينونه ډېر ليدلي دي، خيبر ډېر يرغلګران تر ځان تېر کړي دي، مګر د خټکو کوهسار، د يوسفزو مېرې، د اپرېدو تاريخي وادي او د سپين غره برېښندوکي او نقره يي څوکي ټولي دا په ياد لري، چې دا مځکي د آزادو پښتنو دي او په کلو کلو دلته زموږ احرارو ځلمو ويني توى کړي دي، د سکندر قوي لښکر، د چنګېز او تېمور او بابر او اکبر غښتلو موټونو هم د دې غرو او مېرو د آزاده ګانو غاړه ځان ته نه کړه کښته.

په دې آخر قرن کي بيا د پښتنو د احرارو د سربازۍ داستانونه دي او د برتانيا قاهري قوې هم دوى نه کړل ذليل. د آزاد سرحد پښتانه تر اوسه هم د پښتونوالي تر کلک قانون لاندي آزاد اوسي، او د غلامۍ ټپلي د دوى پر سېما نه دي لوېدلي. دا ولې؟ ځکه چې پښتانه د خپلو غرو کاڼي د نورو تر طلا ښه ګڼي، او د وطن خاوري او ګرز دوى ته د مشکو او توتيا حکم لري.

د داسي ازاديخواه او حريت پسند قوم لپاره چې د شلم قرن ډيموکراسيانو کوم د اسارت کړهل کيندلى و، تاسي به د طلوع په پخوانو ګڼو کي لوستلي وي. د دولت برتانيا مامورينو خو پښتانه مجبور کړل، چې هغسي به رايه ورکوي، په کوم ډول چي دوى نه غوښتل.

**ريفرنډم تمام سو:**

بالاخره رايه اخيستل تمام سول، او دا هنګامه پاى ته ورسېده، سره د دې چې مسلح عسکر ولاړ وه او د مردک او برچې په زور خلک د پاکستان له مخالفته را ګرځول کېده، ځيني مجبور کړل سوي هم وه، او له ځينو څخه رايي رانيول سوي هم وې، نتيجه داسي سوه، چې (۴۹، ۵۰) فيصد رايي د پاکستان په طرف کي ښکاره سوې او نورو خلکو له رايي ورکولو څخه ځان وژغوره.

دې کار ډېر نواقص درلوده، او دا ریفرنډم آزاد نه و، یو خو دا و، چې تقریباً له شپږ میلیونو پښتنو څخه شپږ لکه تنه رایې ته غوښتل سوي وه، او بل دا و چې د سرحدي ایجنسیو خلک هم نه وه پکښې داخل، د ډېرو خلکو رایې په پیسو خرڅې سوې او ډېر خلک هم مجبور سول، ډېر د پاکستان مخالفین هم له صوبهٔ سرحده ولاړل، وخت هم خورا تنګ و، او دا رایې ګیري په یوه تعصبي ډول وسوه، چې د هندوستان پر صندوق ګرنت او د پاکستان پر صندوق قرآن عظیم پروت و، حال دا چې پښتنو قطعاً د هندوستان خبره نه کوله، دوی ځانله پخپله یو آزاد او اسلامي حکومت غوښت.

د دغو ټولو کارو سره هم دا ریفرنډم کامیاب نه سو او تر (۴۹) فیصده زیاتو پښتنو په رایې کي شمولیت ونه کړ، او دا ښکاره کوي چې دغه ریفرنډم د منلو وړ نه دئ، او د حکم او قضاوت مدار نه سي کېدای، نو ځکه پښتانه دا کار نه مني او صحیح یې نه ګڼي.

پخپله د صوبهٔ سرحد آزادیخواهان او احرار هم په دغه کار قناعت نه لري او د حکومت کابینه هم تر اوسه د ډاکټر خانصاحب په لاس کي ده او د دغو رایې اخیستلو په نتیجه کي دی ځان قانوناً د استعفی وړ نه ګڼي او زموږ سرحدي وروڼه د یوه آزاد او مستقل حکومت لپاره سعي کوي او په دې لار کي ډېر ټینګ مصروف دي.

## آینده مشکلات:

ښکاره ده، چې پخپله د صوبهٔ سرحد آزادیخواهان آزادي او خپلواکي غواړي او د آزادو سرحداتو پښتانه هم له دوی سره ملګري دي، د افغانستان ملت هم ځان د هغو ورور او محب ګڼي او خپله اخلاقي وظیفه اداء کوي، او دا غواړي چې خپله پښتانه وروڼه، آزاد، مسعود، مترقي او خوښ وویني.

نو که اوس د پښتنو د اکثریت د غوښتني فکر ونه سي او د ریفرنډم پر دې ناقصه نتیجه تکیه وسي، نه به پښتانه قانع وي او نه به دا ملي اضطراب ورک سي، چې په ټولو پښتنو کي له بولانه تر چتراله پیدا سوی دئ، پښتانه ټول یو قوم او یو وجود دي، ډېر داسي پښتانه سته، چې مثلاً یو ورور په صوبهٔ سرحد یا بلوچستان کي اوسي او بل ورور یې په افغانستان یا آزاد سرحد کي وي. پلار دلته دئ، زوی هلته. یو نژدې خپل هلته دئ بل دلته! نو آیا دغسي سره ګډ او خپل او قریب قوم به څنګه یو د بل له مقدراتو څخه غافل وي؟ آیا دغه ملي یووالی او قربت به آینده د پاکستان پښتانه څنګه له نورو څخه جلا او بېل کاندي؟

د پاکستان غربي خوا ته د اباسیند د مجرا را په دې خوا ټول پښتانه پراته دي، او که دغه پښتانه په پاکستان ګډ سي نو مستقیماً د افغانستان له اوسني سرحدي خط سره نښلي، دغه پښتانه که اوس په زور او جبر بېله د دوی د خوښۍ په یوه پردي مملکت پوري ونښلول سي نو آیا دغه اوضاع او اضطرابات به زموږ آینده دوستانه روابط نه کي سره خړ؟ آیا یو ورور چې په دې خوا کي اوسي د بل خپل ورور چې مثلاً په پاکستان کي اوسي، په غم او ښادي به شریک نه وي؟ آیا د پښتنو د آزادي خواهۍ لایموت احساس چې قرنونه قرنونه پخوا هم موجود و دوی به څنګه پرېږدي چې د بل قوم تر اقتدار او واک لاندي شي؟ آیا دغه د سرحدي پښتنو د آزادیخواهۍ جګړې چې په قرنو قرنو یې دوام کړی دئ، پسله دې به څنګه خاموشه سي؟

دا هغه مشکلات دي چې پاکستان ته به له پښتنو څخه په آینده زمانه کي ورپېښېږي او که فرضاً په پاکستان پوري په زور ونښلولي پښتانه یو وخت بیا د آزادۍ اقدام وکړي، نو به نور پښتانه دوی څنګه یوازي پرېږدي؟ اوس هم زموږ یوه اخلاقي وظیفه ده، چې د دنیا خلک دې خبرو ته ملتفت کړو او په آینده کي هم نه سو کولای چې د خپلو ملي ورونو له حاله غافل یو.

نوآیا اوس مناسبه نه ده چي زموږ پاکستاني دوستان دغه آینده مشکلات تر نظر لاندي ونیسي او حل یې کړي؟ ځکه چي دغه مشکلات د دوو اسلامي مملکتو آینده روابط سره خړوي، نو بهتره ده چي اوس لا په دې کي فکر وسي، چي د پښتنو مشترک مقدرات کورټ نه سي سره بېلېدلای.

## له پاکستاني ورونو سره یو څو دوستانه خبري:

د هندوستان مسلمانان خو زموږ اسلامي ورونه دي، او موږ له دوی سره د میني همدردي لرو، د دوی آزادي او خوښي او ترقي او سعادت زموږ د خوښۍ سبب دئ او د افغانستان ملت او حکومت دواړه غواړي چي له پاکستانه سره آینده دوستانه روابط ولري او د همسایګۍ خوږې ورځي سره تېري کړي.

ښاغلي جناح د پاکستان مشر هم ویلي دي، چي له افغانستانه او ټولو اسلامي مملکتو سره به ښه روابط ساتي، دا متقابل وضعیت او د دواړو خواوو ښه آمال په دې عصر کي خورا غنیمت دي، نو د صوبهٔ سرحد او د بلوچستان د پښتنو حیاتي مسایل هم باید په داسي ډول حل سي چي د افغانستان د ملت او حکومت د اطمینان او قناعت سبب سي.

موږ مسلمانان یو، او اسلامي روایات او اوامر ډېر مقدس ګڼو، د قرآن عظیم د (اخوت) او وروړګلوۍ هدایات زموږ په غوږ کي دي او (لایؤمن احدکم حتی یحب لاخیه ما یحب لنفسه) [الحدیث] مو د ژوندانه اساس دئ، زموږ د ځان په رنګ پر پاکستاني مسلمانانو آزادي، حریت، ترقي پېرزو ده. هغه چي پر ځان پېرزو لرو پر دوی مو هم پېرزو دي. مګر باید دوی هم زموږ پر پښتنو ورونو د آزادۍ او استقلال پېرزوینه ولري، دوی چي غواړي ځانونه آزاد کړي او پخپل جهد د ژوندانه او ارتقاء پر لاره روان سي نو به ولي و خپلو پښتنو اسلامي ورونو ته د آزاد ژوندانه حق نه ورکوي؟

باید د پاکستان ښاغلي مشران دا خبره هېره نه کړي او د دغو دوو اسلامي مملکتو آینده روابط او دوستانه مناسبات په داسي ډول سم او پاک وساتي چي د هیڅ راز اشکال او خړتوب تصور یې ونه سي.

طلوع افغان، ۱۳۲٦ ش، ۱۱٤ ګڼه، لومړي مخ.